څوک چې ښه اودس وکړي، نو ګناهونه يې له بدن څخه وځي، تر دې چې د نوکانو له لاندې برخې څخه يې هم وځي

له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "څوک چې ښه اودس وکړي، نو ګناهونه يې له بدن څخه وځي، تر دې چې د نوکانو له لاندې برخې څخه يې هم وځي".
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک د اصولو او آدابو په نظر کې نيولو سره اودس وکړي نو دا د ګناهونو او خطاګانو د بخښلو لامل ګرځي «تر دې چې ګناهونه يې» د دواړو لاسونو او دواړو پښو د نوکانو له لاندې برخې څخه هم وځي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6263